پوهاند دوکتور م.ا. زیار
اکسفورډ، ۲۰-۱۲-۰۱۱

# لیکنی ژبه د ګړنی ژبې یو کره غځېدلی غورچاڼ دی

ژبه د تړوني (قراردادي) غږیزو پایلامو (علامو) یوه پرله غښتې ټولګه، په بله وینا، سېستم دی چې د یوې ټولنې د وګړو ترمنځ د اړیکي ټینګولو، یا په دوده مانا د ((وبله پوهاوي)) لپاره پر کار اچول کېږي. دغه هر غږیز پیلام (علامت، سېمبول) د یو تړاو له مخې یو څیز یا شکارنده نوموي. په دې ډول دغه پیلام نوم یا شووند (دال) بلل کېږي او څه چې نوموي او راشيي، نوملی یا شوولی (مدلول) او د دال او مدلول ترمنځ تړاو (دلالت) چې ((مانا)) ورته هم وايي. بې له دې دلالت ځنې ((دال)) له آره له ((مدلول)) سره هېڅ کوم طبیعي یا غریزي نژدېوالی او ورتوالی نه لري او دا ټولنه ده چې په تړوني توګه یې ترمنځ یو ارزښت او دنده ورټاکي او په پایله کې نوم له نوملي سره اړخ لګوي. په دودیزه ژبپوهنه کې د ((دال)) او ((مدلول)) ترمنځ تړاو یا (دلالت) د مدلول یوه جزء او ځانګړتیا انګېرل کېده او. له همدې کبله یې سیده پر سیده مدلول او ((مانا)) سره اخښل او زیاتره یې دال له ((لفظ)) او مدلول له ((معنی)) سره مترادف انګېره. بې له دې چې پوه شي چې مدلول هغه څه دي چې زموږ له ذهنه بهر خپلواکه نګېروړه (محسوسه) هستي لري یا لرلای شي (لکه یوه پېښه یاکیسه چې د اورولو او اوریدلو سره د نګېرلو جوګه کېږي) او مانا تل یو نانګېروړ او مجرد ذهني انځور دی. دساري په ډول خریری (سمارق) د غږیز-اوریز وړ نوم (دال) په توګه زموږ په ژبه ادا کېږي او په طبېعت کې هم یو نګېروړ څیز د (مدلول) په توګه نوموي، خو د دواړو ترمنځ تړاو ((مانا)) نانګېروړ دی چې زموږ په ذهن کې دننه ټیکاو لري.

یو کوشنی له لومړی ورځې نه دغه غږیزې پیلامې پرلپسی د مور، تې مور (دایې) یا بل پالونکي اوري او تر یوه کاله یې یو شمېر نیم نیمکله او تر دوه

کلنی څه ناڅه پوره ادا کولای او لېرودېر له مدلول سره تړاو ورکولای شي. یو نیم چې د توتي په څېر چر چر غږېږي او چاته د خبرو وار نه ورکوي، اړینه نه ده چې په بشپړ ډول دې د دال و مدلول ترمنځ تړاو ورکړای شي. په بله وینا، یا یوازې د سېمبول هما غه غږیز اړخ(دال) غبرگوي راغبرگوي او یا ورسره څه ناڅه مدلول هم پیوند لای شي، د ساري په ډول(سپی) یا( تو تو) د(دال) په توگه سم ادا کوي او داچې یې د(مدلول) په توگه په غړولو سترگو گوري او پېژني یې، نو په اسانه یې ترمنځ تړاو(دلالت) ټینگولای شي. خو که خبره پر نالیدلو او بیا نانگېر لو (نامحسوسو) مدلولانو (ښوولیو، نومولیو) وي، نو بیا تر ۶ کلنی پورې چې پر ژبه بشپړ لا سبری مومي، دغه ذهني تړاو(دلالت) یې تر منځ زیاتره نه شي ټینگو لای. غونډلې (جملې) یې هم زیاتره میخانیکي وي او د بېلابېلو رغنده توکو تو پیرونه،پېژندنه او شننه ورته گرانه وي، د بېلگې په توگه که ((داداراغی-لاغی))، ((وړی یم))،((اوبه راکه-لاکه))... او یا په ټولیز ډول نورې ډېرې غونډلې له لویانو سره هسې غبرگوي راغبر گوي هم،. خو تر یاد شوي منگه سمې سهي او اگاهانه ذهن ته سپارلای نه شي.
له گړنی تر لیکنی ژبې

**لیکنۍ ژبه له گړنی او بیا((ولسي)) یا په لنډ ډول (و)گړنی هغې سره خورا ډېر توپیر لري:**

۱) لیکنی ژبه د و(گړنی) ژبې لور ده او دا مور بیا پر خپل وار د هغې نانگېرلې (نامحسوسې) بېخبنایي ژبې لورده چې له وړکینې راهیسې د یولړ لنډو تنگو (محدودو) ویيو، غونډلو او دویو (قاعدو) د یوې ټولگې په توگه زموږ په مغزو کې راخوندي شوې، خو زېږندویه پټتوان(پوتنسیال) یې ناپایه دی. مانا داچې هغه لنډ تنگ شمېر ویيونه او غونډلې د ورسره څو لنډو تنگو دویونو (قاعدو) په مرسته ناپایه نگېرلې (محسوسه) بڼه راخپلولای شي. دغه غځېدلې او نگېرلی (محسوسه) بڼه ((گړنی)) یا (و) گړنی ژبه بلل کېږي او که بیا پسې ((لیکنی)) بڼه هم راخپله کاندې، نو دېته یې بیا((لیکنی)) بڼه یا ژبه وایو.

**۲) په ګړنۍ ژبه کې د لیکنۍ هومره پام و سوچ پرکار نه اچول کېږي او نه ورته دومره وخت ځانګړی کېږي. نو له دې کبله یې د رغښتیزو او پښوییزو دویونو (قواعدو) خیال هم دومره نه ساتل کېږي. د ساري په ډول د غونډلې ټاکلی او منلی اوډون(ترتیب) زیاتره لتاړېږي، دکړنداو کړي ((فاعل- مفعول) او د اېښي- اېښوني (مبتدا-خبر) ځایونه سره ادلون بدلون مومي او داسې نور.**

**۳)** ګړنۍ او بیا وګړنۍ (عامیانه) ژبه په ټوله کې له جولیز او مانیز پلوه نیمګړې وي. له جولېز پلوه دا چې ژبني توکي ویپونه، غونډلې ... پکې زیاتره نیم نیمګوري ادا کېږي، غورځن(حذف)، اوړن(قلب)، ډېرن(زیاتون)، همرنګي، ناهمرنګي او داسې نور غږپوهیز (فونولوجیکي) او ګړ-غږپوهیز ( مورفو-فونولوجیکي) ادلون بدلون پکې ډېر رامنځته کېږي. **.، یا پکې ځینې توکي سم نه اداکېږي او یا ګړسره نه ویل کېږي او ځای یې نغوتې او خوځښتونه، په بله وینا، ساین لنګویج او باډي لنګویج نیسي.** له مانیز پلوه پکې له داسې ویپانګې، غونډونو، غونډلو، ګړنو، څرګندنو، متلونو، نغوتو،کنایو، ټوکو ټکالو، اپلتو، سپکو ورکو او بدو ردو کار اخېستل کېږي چې نه یوازې له(یوې-کره ادبي) ژبې سره اړخ نه لګوي، بلکې بې ادبي او سپکوالی(رکاکت او اهانت) پکې هم نغښتې وي او په هر مهال او چاپېریال کې د ویلو وړ نه وي.

**۴)** ګړنۍ ژبه د لیکنۍ هومره دومره ادبي او سبکي رنګارنګي او راکښون نه لري. او کره ګړنې او څرګندنې او نور توکي پکې دومره نه کارول کېږي، په لیکنۍ کې بیا پر کره کوټلو توکو(ګړنو، څرګندنو...) سربېره، پخې ویناوې، وراشې(وجیزې) او ان شعري انځورونه راڅلي او لا لږوډېر شعرونه لکه متلونه راخپلوي.

**۵)** ګړنۍ بڼه یا ژبه له ناپایه زېږندویه ځواک سره سره د لنډې تنګې کارېدنې له پلوه له لیکنۍ دې سره په ټولیز ډول له څومرهییز او څرنیز دواړه پلوه سیالي نه شي کولای. داسې هم نه ده چې ګړنۍ دا به ګوندې د وړکینې د هماغې ناځانخبرې (اګاهانه) او

نانګېرلې خوندي زېرمې هومره لنډه تنګه پاتې وي، بلکې راوروسته یې د ژوندچاپېریال له پرلپسې پراخېدنې سره په ځانخبرې توګه پرلپسې پراخوا لی او کره والی موندلی وي. له څومره ییز او څرنګیز پلوه لیکنۍ ژبه تر ګړنۍ هغې ځکه ارته بیرته ده چې اړتیا او کارېدنه یې ارته بیرته ده. هم له وړکتونه تر پوهنتونه د زده کړې او ښوونې روزنې ژبه ده، هم د پوهې او فرهنګ ژبه. په پوهه کې په سلګونو پوهنې او زرګونو پوهنیزې څانګې او خرانګې راځي او په فرهنګ کې اووګوني هنرونه له بېشمېرو ډولونو او ځېلونو سره،نورې فنی تخنیکي هغه لا څه کړې څه کړې.

۵) د ګړویزو- زړویزو- نویزو- پورویزو(ګړدودي- زړې- نوې رغولې او پورکړې) څلور ګونې ویېپانګه له آره د لیکنۍ ژبې د پراخوالي او کره والي یو رغنده توک(متشکله جزء) ګڼل کېږي او که په ګړنۍ کې یې لږوډېر څرک و لګي، په بنسټیز ډول به د لیکنۍ ژبې د اغېزمنۍ پایله وي.

**۶) ګړنۍ ژبه یو مخ یا اړخ(بعد) لري او هغه کرښیز( لیکه یي)، زنځیري یاخطي(lineal) بعد دی. مانا داچې ژبني توکي د وینده غړیو په مټ یو په بل پسې رازېږي او ویل کېږي، نو داچې وخت اخلي، نو زماني بعد یې هم بولي. هرګوره له څېرمه یانا زنځیري ژبني توکو یا فونیمونو(خج، اهنګ، بېلتون و پیوستون، زیر و بم، لارغه، غاړه یا لحن...) سره ژبه په استثنایي او موقتي ډول له زنځیري بعده راوځي. پر وړاندې یې لیکنۍ ژبه له زنځیري یا زماني بعد سره سم له سمونې له منځه نه ځي او په دې توګه د مهال و چاپېریال اړونده( تابع) نه ده. که څه هم نن سبا له خبرتیایي تخنیک پوهې(تېکنالوجۍ) سره د ګړنۍ ژبې د لېږد او خوندېنې لپاره اوریزې او وینیزې (آیدویي او ویدویي) وسیلو ډېر پرمختګ کړی، خو بیاهم همدا لیکنۍ ژبه ده چې دغه تېکنالوجي یې تر واک او ولکې لاندې راوستې، د اړوندو اوریزو او اوریز و پنځونو او خپرونو ژبه هم له آره لیکنۍ ژبه ده او سیده ګړنۍ پکې ښایي ډېره ناڅیزه برخه ولري.**

گړنې اوځرگندنې راخپلول
اروابناد دوست شينواري به ((له لاسه ورکول)) د پارسي ژبې څرگندنه (اصطلاح) بلله او د رد لپاره به يې دادليل راوړ: ((دابه څومره بې مانا وي چې وواېو: ما لاس له لاسه ورکړ!))، مانا داچې پارسي ژباړه يې انگېرله!
ما د همدغه کال پر يوه ورځ د يوې پارسي غونډلې (سهم زنان درآن کمرنگ بود) پر وړاندې له ليکوال ((حبيب اله رفيع)) څخه (د ښځو برخه پکې کمرنگه وه) وا وريده او له بي بي سي ويانند ((محمود کوچي)) خنې (د ښځو برخه پکې غوښنه نه وه)، وژباړله. په دې توگه د لومړي دا يو نوښت وو چې ړومبی ځل يې يوه پارسي څرگندنه راپښتو کړه ، خو دويم يې له يوه سره نږه پښتو ځايناسې کړه. هسې کوچي زياتره دپارسي (برجسته) د اندول په توگه (غوښن) کاروي او دغلته يې تش يو ((نه)) ورسرباري کړه.
گړنې (محاوري **idioms**) او څرگندنې (اصطلاحات **expressions**) د هرې ژبې، په تېره کره ليکنۍ ژبې له سپمايي، ادبي او سبکي (ستايلېستيکي) له ځانگړتياوو او اړتياوو څخه بلل کېږي. په گړنۍ ژبه کې نه دومره د وخت د سپمااو ترينگلتيا (فشرده گی) خيال ساتل کېږي او نه د ادبي او سبکي ښکلا؛ دا رغښتونه له آره ژبني انځورونه دي او لکه شعري انځورونه د ژبې ښکلاييز اړخ سمبالوي. هرگوره، دشعر په ذهني انځورونو کې بيا هر راز څرگندونه شونې ده، که هغه له ژبني رغښتيز او پښوييز دوی (قاعدې سره سمون ولري يانه او له بهرني واقعيت سره اړخ ولگوي يانه!
که څه هم د نورو توکو رغښتونو او بيا غونډونو يا فقرو (**phrases**) غوندې گړنې او څرگندنې هم له گړنۍ ژبې آره اخلي، خو که له اړتيا سره سم په گړنۍ هغې کې هو بهو شتون و نه لري ، نو د ژبې له زيږندوي ځواک و ځانگړتياسره سم يې د شتو مخبېلگو پر بنسټ رغولای شو ، کټ مټ لکه په ويير غاونه کې چې د لنډو گنډو بېلنگونو او تړنگونو (اشتقاقونواو ترکيبونو) له مخې بې شمېره رغاونې کوو، د ساري په ډول مو له يوې مخبېلگې ((مېړتون)) څخه: پوهنتون، روغتون، درملتون، زيږنتون... رغولي او د (کورنۍ، غرنۍ،

سړنی، پروسړنی، اوسنی، پخوانی، پایینی، ننني، پرونی، شکېنی، پاسنی...) له مخې: ژبنی، اورنی، اوبنی، سیندنی، وګړنی، دنني، بهرني، لیکنی، ګړنی، بېړنی، مځنی، مځینی، لمرنی، ګهیځنی، کرنی، پسرلنی، دوبنی، اوړنی، ژمنی... .
د ساري په ډول مو له یوې مخبېلګې((مېړتون)) څخه: پوهنتون، روغتون، درملتون، زېږنتون... رغولي دي.
په همدې لړ کې، که (له لاسه ورکول) هو بهو په ګړنی او وګړنی پښتو کې و نه مومو،(له لاسه وتل) خو به ومومو. د ننګرهار خواته د ((لاس)) پرځای زیاتره ((ګوتې)) د داسې ځرګندونو د زړي یا هستې په توګه کارول کېږي، لکه: (له ګوتو وتل)، (تر ګوتو کول).
په دې ډول(لاسته راوړل)-(ترګوتو کول)، (له لاسه ورکول)، یا (لاس له لاسه ورکول) ناپښتو بللای نه شو.
هسې خو د نورو غړیو په څېر له (لاس) سره نورې ګڼې ځرګندنې او ګړنې هم په ګړنی پښتو کې سهي کولای شو، لکه: له... لاس اخېستل، لاس پر سر کېدل، لاس تېرول، لاس مینځل، لاس اچول، لاس لګول، لاس تړل، لاس یو کول، لاس کول، لاس چاته اوږدول یا غځول، لاس پورې کول، لاس مښل، لاس یا لاسونه مروړل، په لاس راوړل، پر لاس راتلل(که غوږې پسې وهې په لاس به درشي...)... (پښتو سیندګی ، انګریزي- پښتو سربلونه- وستربلونه، ګړنې او ځرګندنې؛(پښتو **پښویه دریم چاپ ۲۰۰۵کال، ۱۳۲۳- ۳۲۹مخ)**.
رامنځته کول یا منځ ته راوړل، له منځه تلل، له منځه وړل ... ښایي، ځینې یې د پارسي ژبې تکي پر تکي ژباړه وانګېري، خو لکه چې وویل شول، په ګړنی او ولسي پښتو کې یې سیده او ناسیده بېلګې موندلای شو، لکه زما کلیوال او سیمه وال چې وایي: (( داڅه جنجال دېراپېښ یا رامنځته کړ)) ، یا(رامنځته شه!)، رامخته شه اوداسې پسې نور. په همدې دک و دلیل مو(رامنځته کول) او(رامخته کول) د(مطرح کول) پرځای هم رادود کړی دی. همداسې(اغېزښندل) تر(اغېز کول)، ویاړ- خوښي... بښل) تر(ویاړول- خوشالول) او داسې نورې نوې رادود شوې او رادودېدونکې ځرګندنې د (ادبي) لیکنی پښتو له وسمهالو اړتیاوو او غوښتنو څخه ګڼل کېږي. همداراز څوک په یوڅه نازول، په سلامونو- پېرزوینو... نمانځل)، مننه په مینه، مینه په مننه...(را-در- ور/غبرګول/)؛ (زېږېدل او

زوکول) پر(د ژوند پر مخ سترګې پرانېستل- غوړول) او (مړه کېدل) چې ولسي څرګندنه یې(له دنیا نه تېرېدل) وه، پر (له نړۍ سترګې پټول) او(پر تلپاتې خوب ویدېدل) اړول او داسې نور هم د نوي پښت له تازه نوښتونو څخه بلل کېږي.

( له چاسره یوڅه شریکول) په ګړنۍ پښتوکې له پخوانه دود لرلی، خومنځتکی ((یوڅه)) یې تل توکیز(مادي) کارول شوی، مګر له څه مهال را هیسې یې مانیزه یا(مجازي) کارونه موندلې او له دې سره هغه عادي غونډ(فقره) پر((څرګندنه)) اوښتې ده، لکه:( له چاسره غم، خبره، نظر... شریکول). په دې کې اړنګ بړنګ نشته چې دغه کار تر پارسي اغېز لاندې شوی، ځکه له ډېر پخوا راهیسې یې دغه څرګندنه درلودله او ان(غمشریک، غمشریکي) یې ځنې هم رغولي ول چې ګړنۍ پښتو ته یې همممهال لارموندلې او((غمشریک)) د لنډ نوم(تخلص) په توګه لکه((محمد هاشم غمشریک)) هم رادود شوی دی. په پارسي ژبه کې نن سباله ساده غونډونو(فقرو) څخه د(څرګندنو) او بیا تر د ترنګونو(ترکیبونو) د رغاونې هڅه پوره چټکه شوې، لکه: له (پی ګرفتن= تعقیب کردن) څخه( پیګرد، پیګیري =تعقیب)، له(به خاک سپردن) څخه(خاکسپاري= تدفین)، له(به راه انداختن) څخه (راه اندازی)، له(راه پیمودن) څخه(راه پیمایی) او داسې نور.

((لاس پورته کول)) چې له پوځي بولۍ((لاس پورته!)) سره پر څرګندنه اوښتی او همممهاله یې ((د ځانسپارنې یا تسلیمۍ)) په جاج دګړنې(ایدیوم) دریځ هم راخپل کړی دی ، لکه چې وایي: زمرک ته لاس پورته کړ، یا ورته سلامي شو.

په دې ډول تر ګړنو(محاورو) د څرګندنو(اصطلاحاتو) د را خپلونې شونتیا زیاته ده. ځکه ګړنی ترمجازي مانا تېرې کوي او استعاري او سېمبولیکه مانا رااخلي او له پېښو سره یې ژبنۍ رغښت او نغښت(سرشت و ماهیت) زیانمنوي، د ساري په ډول، که( زلمی له زانو کټوري غواړي) پر ( زلمی از لګ لګ ها جامها میخو اهد) واړول شي، پارسیوان به ورته هک پک پاتې شي. خو که (ګوته یې پرغاښ کړه) څرګندنه پر(انګشت به دندان کرد) ور وژباړو، نو سریې پرې خلاصېدای شي!

((پام (را-در-ور) اړول یا گرځول)) د ساده (پام کول) پر وړاندې یو بله څرګندنه ده چې د ((توجه کول، متوجه کول)) ځای یې نیولی او زړی (پام) یې هم وارله مخه (پاملرنه) وو. په دې توګه (د پام وړ ګرځېدل- ګرځول...)، د پارسي ((گردیدن، گرداندن)) او عربي (جعلَ) په لاروۍ دومره بېځایه نه برېښي، لکه د داُردو ((بنانه)) هومره، لکه چې وایي: نواز د پاکستان صدر جوړېدلی شي یا انګرېزي (**stay**) پر پاتې کېدل راړول، لکه: زه پېښور کې پاتې کېږم (اوسم، اوسېږم)

د نویو رغاونو او دودونو په لړکې د یو لړ ترښتي کړولونو بېلګې، لکه: سم له لاسه، سملاسي، په سملاسي توګه (ډول)، سم له سمونې، په بېړندویه توګه (ډول)، په یومهال کې یا هممهاله (په عین زمان- حال کې)، وسمهال، نن سبا، بیابیا، اوس اوس، وار له مخه (پیش از پیش)،... هم د (ادبي) لیکنۍ پښتو سپمایي آر سمبالوي او هغه داچې د څېرمه او منځپېښو غونډلو ځایناستي کېږي.

ویيکغونډونه ( اداتي فقرې)

دا هغه جوت (ثابت) ژبني ترښتي (ترکیب) او بیا ډېرپېښي (کثیرالوقوع) رغښتونه دي چې زړی (هسته) یې ویيکي (ادوات)، په تېره (سربلونه- وستر بلونه) جوړوي او د ګرامري دندو له مخې زیاتره کړولونه (قیدونه) او کړولوزمه یا بشپړنې (متممونه) رامنځته کوي.

**۱-د** اړیکویيکي (ربطیه اداتو) په مټ، لکه: نه یوازې- بلکې (ګړنی انډول یې: یوازې داغم نه دي ((چې لا)) نورې ماتې ګوډې هم شته)، عربي- پارسي آری (بل + که=بلکې) انډول مو ځکه راخپل کړی چې د (چې) مخنیوی شوی وي( د ((چې)) او ((کې)) تکرار پښتو غونډله ګرانوي)، سره له دې- بیا هم، څومره چې- هومره (هما غومره)، ( لکه) څنګه چې- نو (ځکه، هغسې، همداسې، هماغسې...)، کله چې، چېرې چې، څنګه چې، په داسې حال کې... .

**۲-له (تر-) سربل سره چې اړوند وستربل(پورې- a) یې زیاتره غورځي، لکه:**

تر وروستي بريده (تو وروستي حده)، تر وروستۍ سلګۍ (پورې)، د وينې تر وروستي څاڅکي... .
ـــ له (لاندې) وستربل سره، **لکه:** له ورته پرتليز ياقياسي (انالوجيکال) آر سره سم مو، ان له ((لاس تر زنې لاندې نيول)) ګړنې څخه څو څرګندنې رادود کړې دي، لکه: تر غور لاندې نيول، تر څېړنې- سپړنې- شننې- څېرنې- اښتنې پوښتنې يا پوښتنې ګرويږنې... لاندې نيول او داسې نور.

**٣-** له ((له)) سربل او اړوندو وستربلونو سره د بېلابېلو نوموونو، ستاينوموونو، مهالويونو او نېټو په ملتيا هم ګڼ کړولونه او کړولوزمونه رامنځته شوي دي:
ـــ له (څخه-ه) وستربل سره، لکه: له آره (په اصل کې، اصلاً) له ((سره)) وستربل سره، لکه: له ټولو ناخوالو سره، له يوشمېر سپينروبو، سپينږيرو، مخورو، مشرانو... يا يو لړ خوراکتوکيو سره.
ـــ د (باوجود) په مانا له غبرګ (سره سره) وستربل سره، لکه: له روغتيايي ستونزو سره سره مې خپل کاروبار ته ملا وتړله... .
ـــ له (له- څخه-ه) لکه: له آره (په اصل کې، اصلاً)، له بېخ و بنسټه، له ولږې تندې، کړاوونو... څخه
ـــ له (له- پرته) سره، لکه: بنسټپال له مرګ و ژوبلې او ترهګرۍ پرته بله لار نه
پېژني... ((بې)) سربل بيا هله د ((پرته)) ځايناستې کېدای شي، چې منځتوکي ډېر نه وي، هغه هم ترې له مخه راځي، لکه: بې ليک لوسته ژوند ګران دی. ياد ((له)) په ملتيا، لکه: بې له روغې سولې به لار نشته او داسې نور.
ـــ له (راهيسې) وستربل سره، له زريو راهيسې، له پېړيو راهيسې، له کلو راهيسې، له پرون راهيسې ...، له ١٩٠مخزېږدي کلو راهيسې (پښتنو لويې لويې ټولواکمنۍ (ايمپراتورۍ) رامنځته کړې دي).
ـــ له ـــ له ځينو نوموونو او ستاينوموونو سره د ((پلو، کبل، لامَل...)) په ملتيا، لکه: له ګهيځ پلوه، له ناروغۍ پلوه، له ټولنيز پلوه، له سيميز پلوه، له سياسي دريځ پلوه، له اقتصادي کبله، لامله... .

- د یوازېني سربل((د)) په ملتیا منځته راغلي او راتلونکي درغلي وستربلونه چې کوم ټاکلی برید نه لري او له اړتیاسره هرڅومره رغېدای شي، لکه:
د ساري په توګه یا ډول، د بېلګې په توګه( ډول)، په دې توګه(ډول)،همدې توګه(ډول) ، همداراز، همدارنګه، له دې کبله، له دې لامله، له آره، په بنسټیز ډول(توګه) ، په ښکاره(څرګند، جوت) ډول(توګه)، په ناڅاپي یا نابېره توګه(ډول)، په ټولیز ډول چې ترڅنګ یې ولسي انډولونه (له لویه سره، په لویه کې) هم رادود شوي دي، له ټولنیز پلوه، له ټولن-وټیز(اجتماعي- اقتصادي) پلوه، له ژبتوکمیز (اېتنو- لنګوېستیکي) پلوه، له زماني پلوه، له ادبي پلوه، له فرهنګي پلوه، پو هنیز پلوه، د ستونزو پروړاندې یا پرسر، د پېړیو په پوړیو کې، د باران له وورېدو سره(د باران د وورېدو په صورت کې)، مانا داچې(یانې، یعنې)، په دې مانا، په بله مانا، په بله وینا، په بله ژبه یا په نورو ټکو، په لنډ ډول، په لاندې ډول (توګه)، د- په پام کې نیولو سره چې نن سبا (د- په پام سره) ته رالنډ شوی دی، همداسې(د- بښنې په غوښتنې سره) پر(په بښنه) اوښتی، د-په پایله کې، د(هېواد) دننه(خپلې اړتیاوې پوره کولای شو) او د(هېواد) بهر(په دغو دواړو بېلګو کې سربل(- د) غورځېدای شي او پر پخو ترنګو اوړي)،د- په توګه یا ډول، د- په مشرۍ یا تر مشرۍ لاندې، د- په نوښت، د- په هڅونه،له- نه په ګټه اخېستنه یا د استاد صمیم (له- په ګټنه)، د- په کچه(اندازه)، د- پر کچ (سویه، سطح)،د- له پلوه، د- له کبله (لامله)، د (زده کړو) تر څنګ (کار هم کوم)، د پېړۍ -کال-میاشتې په لومړیو، منځیو یا وروستیو کې چې پخوا (د- په لومړیو وختو کې، په منځنیو وختو کې او وروستیو وختو کې) او لا پخوا(د- په اوایلو، اواسطو او اواخرو کې) دود ول...

په دې ډول داسې نور بېشمېره بېلابېل رغښتونه چې زموږ لیکوالو او څېړنوالو له څه ناڅه اتیا کلو راهیسې له نورو ژبو سره دسیالی له مخې رارغولي او رادود کړي دي او له دې کار سره یې د ((یوې- کره لیکنی پښتو)) پوره غځولې او لا غځوي یې، بې له دې

چې له ولسه یې لرې کاندي، ځکه مانا او موخه ورسره نه زیانمنېږي او ناسیده بېلګې ورته لري. ( پښویه **۱۹۸- ۲۰۴ او ۲۲۶-۲۲۹ مخ)**

همدا شو ورځې له مخه په (وریت پښتون فېسبوک کې) ښاغلي محمدالله کمال له (پای ته رسېدل- رسول) څخه پر(ختمېدل- ختمول) په دې لاسوند سم او غوره بللي ول چې زړی یې (پای) پارسي دی، په غبرګون کې مې ورولیکل: پای د کندهار خواته د(پښې) نه، بلکې د(پایان، ختم) په مانا کارول کېږي او په ټولیز ډول د کړستې(فعلي اصل) په توګه دود لري، لکه په(پایم- پایو، پایې- پایئ، پایاست، پایي) کې، همداراز یې اړوند بېلنګونه(پایدنه، پایدنګ، پایښت، پایلی پاینه، پایونه...) درواخله او د نوم ستې په توګه ترې نوې رغولي ترنګونه، لکه: پایخج( فشار آغازی)، پایمخ(ماقبل)، پایبڼه(شکل نهایی) او داسې نور. په نورو ګړدودو کې د(پایته رسېدل- رسول) ورته انډول(سرته رسېدل- رسول) بیا ډېر دود لري چې (په سر رسول) یې بیاد(به سر رساندن) ټکي پر ټکي پېښې دي.

په هر ډول، پښتو پر خپل وار چې نن سبا یې پر هېوادني او جهاني کچ ادبي، فرهنګي او علمي سیالۍ ته رادانګلي، د څلورګونې وییپانګې تر څنګ، تر بل هرمهاله د ګړنو او څرګندنو غځونې او کارونې ته هم ډېره اړتیا لري. داچې ننۍ لیکنۍ پښتو له څومره ییز پلوه له هغې لنډې تنګې پښتو سره هېڅ د پرتلې وړ نه ده چې دېرش- پېنځه دېرش کاله مخکې دود وه. نو له دې کبله په کارده، څرنګیز او ستایلېستیک اړخ یې هم په هماغه انډول راسمبال کړو او ددې چارې لپاره تر هرڅه له مخه پر ګړنو او څرګندنو زیات زور واچوو. دغه نه یوازې له سپمايي (صرفجویانه) او ادبي ، بلکې د نړیوالې اړتیاوو څخه هم بلل کېږي.

په دې لړکې یو لړ ګړنې او څرګندنې نړیوالې بلل کېږي چې ګردې ژبنۍ ټولنې یې په یوه (سیاسي) جاج کاروي، لکه: د زندان د تورو میلو ترشا اچول کېدل یا کلونه تېرول، چا له پښولاندې ټغر راکښل(څوک له

واک وځواکه راپرېستل یاراپرځول)، د چا له پښو لاندې زینه راکښل، پوره موخه او مانا یې (ځوک ډېر لوړول او بیرته یې پر ځمکه ویشتل) دي... .

له څه مهال راهیسې ((د... په... کې نغښتی دی)) څرګندنه په دې رادود شوی چې هم ادبي ده او هم یې د پارسي پېښو مخه نیولې، لکه(په برکې نیسي، په غېږکې نیسي ، احتوا کوي،...) نور سوچه انډولونه یې، لکه( په دې کې راځي، رااخلي ...) یې هم شته، خو دومره ادبي خوند نه لري همدا څرګندنه د پارسي(... در ... مضمر یا نهفته است) لپاره هم انډول شوی چې ځینې کم ازمېښته لیکوال یې تراوسه( په... کې مضمر- پټ دی) وایي. موږ دوه درې کاله وړاندې د پارسي (دسترسی) او انګرېزي (**access**) پر وړاندې (لاسرسی) د(لاس رسېدل) پر بنسټ رغولی او له واره ترې بي بي سي پښتو خپرونې(... ته لاس رسی لرل- موندل) څرګندنه ورغوله او په دې توګه پښتو راخپله کړه. د پارسي (... راز خود ساخت) یا یا یې ادبي بڼه(...را از آنِ خود ساخت)، پښتو نږه انډول(... راخپل کړ) دود ومونډچې پېښوري لیکوالو وار له مخه له ګړنی پښتو را خېستی دی. همداسې(پاتې راتلل) د(ناکامېدل) (پرېوتل) اړوندې څرګندنې هم درواخله، لکه: (داراته اسان- ارزان- ... یاګټور پرېوت یا پرېوځي) چې بره خوا د پارسي په پېښو(داراته... تمام شو یا تمامېږي) دود لاره او لا لري یې. همداسې یې (خیال ساتل)، پام ساتل هم درواخله.
غونډه پرانېستل، د غونډې پرانېسته کول، په غونډه کې برخه اخېستل یاګډون کول چې(برخوال) او(ګډونوال) بېلنګونه(اشتقاقونه) ترې رغېدلي، کوم نادوده کار نه دی.
ډېر لیکوال د پارسي (قرار داشتن، قرار ګرفتن) په پېښو(قرار لرل، قرار نیول) کاروي، خو موږ (ټیکا ولرل، ټیکاو موندل) رادود کړل. د بېلګې په ډول که ((کشور ما امروزه در یک حالت یا وضع بسیار وخیمی قرار دارد))، (زموږ هېواد نن په یوه خورا بداکر کې دی)، هم را وژباړو، ورته مانا ترې اخېستای شو، خو له هغومره پیاوړتیا او خوږ غږی(خوش آهنګی) سره نه. له دې کبله اړ وځو(زموږ هېواد نن

سبا په یوه خورا بد اکر کې ټیکاو لري)، وو ایو یا ولیکو. دغه راز پارسي (در عمل پیاده کردن) د (په کړن کې پلي کول) او بیا (پلي کول) د (عملي کول) او (تطبیقول) ځایناستي کول کومه نابښل کېدونکې گناه نه بلل کېږي، نه د پښتو پښو ییز رغښت ته تاوان رسوي او نه یې موخې او مانا ته. نورې ورته بېلگې، لکه ( شتون لري)

د (شته) او (شته دی) د ادبي اندول په توگه؛ (یو کار تر سره کېږي) د (یوکار کېږي) تر څنگه له گړنۍ پښتو سره ښه ترا اړخ لگوي. پر وړاندې یې پارسیوانانو وارله مخه د انگریزي ( **takes** **place**)، الماني (**statt findet**) او نورو اروپایي ژبو په پېښو (صورت میگیرد) کړی او ناکره پښتو لیکوال یې بیاد پارسي اغېز لاندې (صورت نیسي) وایي او لیکي ؛ (کارول کېږي) چې له ښایسته ډېر مهال راهیسې د (استعمالېږي) پرځای یې دود موندلی، د (پر کار اچول کېږي) څرگندنې یو ساده اندول دی؛ (کاروبارته مې نور پایټکی کېښووه) د ( کاروبار مې نور بس کړ)؛ (پر همدا یوه لیکنه مې بس راوړ) یا (پر همدا یوه لیکنه مې بسنه وکړه) او یاه (پر همدا یوه لیکنه بسیا شوم)، د (پر همدا یوه لیکنه مې بس کړ) ترڅنگه؛ (( ښکېل)) د (بند، نښتي...)، پارسي (گېر، درگیر، گرفتار)، انگلیسي (**involved**) ډېرش پېڼځه ډېرش کاله وړاندې تري ((ښکېلاک)) رغول شوی، نن سبا تري (په- کې ښکېل-ېدل) څرگندنه رغېدلې چې په خبري رسنیو کې د پردیو هغو پر وړاندې زیاته کارول کېږي، لکه: د افغانستان په جنگ کې خپل او پردي ښکېل دي) د پارسي ( در جنگ افغانستان خویش و بیگانه درگیر اند)، دجنگ پرځای (جنایت، جنجال ، کشاله، ستونزه...) هم راځي.
((پوښل)) په دې تازه وختو کې د انگریزي (( **to cover**)) په بي بي سي کې لومړی پارسي-دري (پوش- پوشش کردن) کړی او بیا ورپسې پښتو هم. لکه په دې بېلگوکې:
خبرهارا پوشش کرد (خبرونه یې وپوښل)، من امشب مسوول پوشش خبرها استم (دنن شپې د خبرونو پوښښ زما پر غاړه دی)، در فکر پوشش احتیاجات خود است (د خپلو اړتیاوو د پوښښ په سوچ کې دی)... چې پخوا یې

پارسي پر ځای (تأمين کردن، مرفوع ساختن...) او پښتو(پوره کول ، سمبالول...) کارول.
کله ناکله يې پارسي د(در برگرفتن) او( نورديدن) پرځای هم کاروي، لکه چې وايي: ((کشتی شصت کيلومتره زير پوشش آورد))،نو دغلته يې پښتو((نغښتل)) ځای نيوای شي، لکه: بېړۍ شپېته کيلو متره و نغښتل يا شپېته کيلو متره (لار) ونغښتله چې لږ ادبي يې(...ووهله) راځي.
که څوک دانيوکه وکړي چې داسې انډولونو ته اړتيا څه ده، ځواب يې داچې يو خو دغه ادبي فورمونه په زړه پورې دی او بيا يوه سبکي رنگارنگ راولي، ترپايه ( شول، کړل) ليکنه بېخونده کوي، نو (لرل، موندل...) کارول هم په کار دي. رنگا رنگي يا تنوع(**variety**) د کره او ادبي ليکلارې يا سبک له غورو ځانگړ تياوو گڼل کېږي. په ليکنۍ پارسۍ کې چې له څومره ييز او څرنگيز پلوه يې تر پښتو ادبي او فرهنگي مخينه ډېره او بډايه ده، يوازی يې شاعرانود وييز تر څنگه د لنډو گنډو گړنيو بېلگو له مخې په زرگونه څرگندنې او ان گړنې را پنځولي دي چې د بېلگې په توگه يې(قرار داشتن، قرار گرفتن) په لک کې يو کک گڼلای شو.

په دې کې هم څه اړنگ بړنگ نشته چې پارسۍ د يوې زړې(سوپل- لويديزې) خپلوانې او لږ تر لږه يوزرکلنې هم هېوادې ژبې په توگه له پښتو سره ښايسته ډېرې ځانگړتياوې لرلې او سره ادلې بدلې کړې دي. په دې لړکې له داسې گړنو، په تېره څرگندنو سره مخ کېږو چې يايې له گډې سرچينې اوبه څښلي او يايې په دومره مهال کې په ناخبره او نابره توگه سره ژباړلې راژباړلې دي. له بلې خوا څنگه چې زياتره دغه جوت غونډونه(ثابت عبارتونه) د پېښو، کيسو اوبيامتلونو زېږنده دي، نو له هماغو ورته پېښو، کيسو او متلو رامنځته شوي دي، چا په کلي کې نه پرېښووه، ويل يې، آس مې د خان کره و تړئ، چې خان يې په ياران يې، په جنگ کې څوک آسونه نه څربوي يا چاغوي، څه چې کړې، هغه به رېبې، بې زحمته راحت نشته، لاس کارغه د زرکې پېښې کولې، خپل تگ يې هېر شو(او نظامي ترې اووه پېړۍ پخوا ارسال المثل رغولی دی: کلاغی تگ کبک در گوش کرد- تگ

خویشتن را فراموش کرد)، پښتو (تېرپر هېر) یا (تېرشو هېر شو) یوازې له پارسي (گذشته را صلوات آینده را احتیاط) سره نه، چې له عربي (مضی ما مضی)، او همداراز ښایي له اروپایي او له نورو ډېر ژبو سره هم اړخ ولګوي، نړیوال متلونه او ګړنې څرګندنې خو لاځه کړې څه کړې، لکه کاروان تېرېږي، سپي غپېږي او داسې نور. پارسیوانو (تفرقه انداز و حکومت کن) او موږ (بېل یې کړه، اېل یې کړه) له انګرېزۍ **devide and rule** راژباړلی او انګرېزانو پرخپل وار د نورو اروپایي ژبو په څېر له لاتینه.، همداسې (وخوره مه مره) او پارسي (بخور و نمیر) څرګندنه دروا خله.
د کابلي پارسي انډول (دست زیر الاشه ششتن) ګړنه د پښتو (تر زنې لاندې کښېناستل) ژباړه برېښي، ځکه په ادبي هغې کې یې څرک نه لګي، خو بیایې هم کېدای شي، یو مهال په دغه ژبه کې ټولیزوالی (عمومیت) ومومي او را خپله یې کړې. (خوله نیول: خوله دې ونیسه!) او له (دهن گرفتن: دهنته بگی)؛ (پر- خوله پټول: پر- خوله پټه کړه) او (خپ گرفتن: خپته بگی) او داسې نور بېشمېره انډولونه (معادلونه) هرګوره. د پښتو او کابلی پارسی ترمنځ شریک برېښي، نه داچې یو له بله یې سره را ژباړلي اوسي.
(د یوه کار له عهدې وتل) رښتیاهم د (از عهدهٔ کاری برآمدن یا بدر شدن) پېښې دي، خو سوچه انډول مو (د یوه کار له توغه وتل) ور پیداکړ او داسې نور. داسې ځانساتي لیکوال هم شته چې له پخوا راهیسې د پارسي په پېښو یو لړ دود رغښتونه راپښتو کول وره ګړسره یو پدل (تابو) برېښي. ډاکتر بسم الله امیر چې له ښوونځي تر پوهنځي یې زده کړې په خپله مورنۍ پښتو تر سره کړې او له ایرانه یې هم په ادبي متنپوهنه کې تر ډاکترۍ راوروسته د پخوا په څېر ګردې لیکنې څېړنې په پښتو دي، له ویانا نه یې په خپله ځپرېدونکې مهالنۍ ((ولس)) کې په بدل نامه (نایبخېل) د نورو نا ځانګپوهیزو ناپړیتو تر څنګ یوه داوه چې ((په اړه)) او ((په تړاو)) د پارسي (در این ارتباط) ژباړه ده، تر دغو ژباړو خودادومره مهال کارول شوی ((په دې ارتباط)) غوره دی!

ما دالماني او انګرېزي بېلګو په راوړلو ورغبرګه کړه چې دا د ټولو ژبو تر منځ له ګډو رغښتونو څخه دي. په ګړنۍ پښتو کې یې یو انډول (په- پورې) غبرګبل دی، لکه چې وایي: (ستا په خبرې پورې مې وویل) او بل (په-کې) غبرګبل دی ، لکه چې وایي: (په دې برخه کې څه ویلای نه شم)... په لیکنۍ پښتو کې تر دغو نېږه انډولونو مخکې (د-په باره کې)،(د-په باب)... ډېر کارول کېدل او تر ټولو ناکره (د-په حقله، هکله) انډول خو یې تر اوسه ناکره لیکوال کاروي. همداسې یې د کښېنۍ پښتو، په بله وینا، د اردو (_کی متعلق) په پېښو، (د- په اړوند) درواخله چې په هېڅ یوه ژبه کې یوستاینوم (صفت) د بل ټاکونکی (**modifier**) کول دود نه لري.
او دادی، دښکلو ښکلي((اجمل ښکلي)) وار راورسېدچې دغه راز نوې څرګندونې او څرګند نې یې په دې غندلې چې له((ولسي)) یا زموږ په نومونه(و) ګړنۍ پښتو سره(سم سیده) اړخ نه لګوي. دی دکابل پوهنتون د پښتو څانګې یو ځوان ژبپوه استاد دی چې استاد آصف صمیم یې راباندې وار له مخه دغې سختې او ستونز منې پوهنې ته دراهڅونې زېری کړی وو. ما ورسره وړم کال تر یو دوه لکچرو، هغه هم د څانګې نورو استادانو او شاګردانو په ګډون د پښتو پښویې او پښتو لیکلارښود د نویو خپرونو په تړاو، نوره څه مرسته و نه شوه کړای. پروسږ کال. خو مې ورسره له بده مرغه یو تش لیده کاته هم ونه شول او د برېښلیکونو پر لېږد را لېږد سره بسیا پاتې شو.
په((تاند)) ووبپاڼه کې یې تر((منحصره ژبه)) تر سرلیک لاندې رسنیزه (ژورنا لېستي) پښتو هم ((محدوده)) شوو لې او هم تر(و) ګړنۍ، یایې په خپله نومونه ((اصیلې ولسي ژبې)) سره نابانډې او راخېستې توکي او بیا څرګندنې یې پردۍ پېښې بللې دي:، په دې ډول:
(( زموږ زیاتره لیکنې د (تر څو، وړاندې کړ، پرانیسته وکړه، د نوم د نه ښودو په شرط، څرنګه چې ، تر هغې وروسته کېږي، چې...، له خوا مرسته وشوه، په واک کې ورکړل شو، برخه واخیسته، تر غرمې وروسته، په ترڅ کې، قانوني چلند وشي، غواړي، چې...، خبرداری ورکړ، ګڼ شمېر، ښه ځنډ، ترسره شوې، په پایله کې، بریالی هڅه، شتون لري، وروسته

له دې، ټاکل شوي دي، نه شي کولای، چې...، پرته له شکه او....) په لومه کې ګېرې دي. زموږ ژورنالستي او ادبي ژبه تر دغو څو کلمو او جملو نه اوړي او دا ځکه چې پښتانه لیکوال او ژورنالستان له اصیلې ولسي ژبې سره چندان اشنا نه دي. غم خو دا دی، چې دغه پاس کلمې دقیقي هم نه دي او په هر ځای ناځای کې کارېږي. لیکوال او ژورنالستان بس درز ورکوي، په مانا او اغېز یې غوږ نه ګروي. دا محدوده ژبه زیاتره ژباړلې ده او دې ناسمې ژباړلې پښتو د اصیلې پښتو ملا ماته کړې ده... ))
په زړه پورې یې دا چې (( منحصره ژبه ))او ((محدوده ژبه )) نه یوازې له نوې نومونپو هنې سره اړخ نه لګوي، بلکې هممانیز(مترادف)کول یې هم سره نه جوړېږي. که اله ماله د دودیزو استادانو د عربېزم لاروي کوي، په کار ده، په سمه مانا خو یې و کاروي. که د ((منحصر)) پرځای یې ((متحدالمال)) یا پارسي ((یکنواخت)) ستاینوم کارولی وای، له ((محدود)) سره یې یوځه سرخوږ. منحصر یا انحصارشوی چې انګرېزي اندول یې(**monopolizsed**) دامانا لري چې یوځه چا ځانته ټیکه کړې وي او بل چاته یې نه ورکوي. نو(خبري) رسنیزه ژبه دا ستاینوم(صفت) راخپلولای نه شي. رسنیزه ژبه یوه ډېره ارته بیرته ژبه ده او له ګردو علمي، فرهنګي او خبر تیایي(انفارمېتیکي) سکالوو سره کار لري او که شمار آمار واخېستل شي، ښايي، د یوې ورځې نړیواله کچه یې د یوه کال له کتابونو تېری وکړي. هو، که د ښکلي موخه یوازې خبري رسنۍ وي، نو ژبه یې په هره توګه لنډه تنګه(محدوده) ده، نه منحصره. هرګوره لېوډېره ژبنۍ رنګارنګي پکې راوستل لوستونکي او اورېدونکي ښه ترا ځانته راکښلای شي . نو له دغه پلوه بیا د ښاغلي ښکلي نیوکه سمه ده. دا ګوته خو ډېری لیکوالو او څېړنوالوته هم نیول کېږي چې پښتو ته یې د پارسي یا کومې بهرنۍ ژبې تر زده کړې یا لیک لوست وروسته مخه کړې، بې له دې چې د خپلې مورنۍ او پلرنۍ پښتو یو ساده ګرامر هومره تر کتنې تېر کړي یا لېرتر لږه د پخوانیو اوسنیو پخو لیکوالو کتاب نیم ولولي اوځانته یې مخبېلګه کاندې. که ګړنۍ پښتو ځانته بېلګه کوي، نو بیاد ننګیالي بځرکي په څېړ(( لویه جرګه وسول، خو پایله

يې نه لرل)) کاږي(په ووبپانوکې يې ديوې تازه خپرې شوې ليکنې سرليک)!

نه راخپلېدونکي پردي توکي
هغه توکي، جوت غوندونه(ثابت عبارتونه) يا ګړنې او څرګندنې چې په ټوله مانا پښتو پيکه کوي او ګړ سره پښوييز(ګرامري) جوله ور مسخه کوي، هم کمی نه لري. يو ګڼ شمېرليکوالو، رسنوالو او په تېره ويياندانو چې لومړنۍ زده کړې يې د مورنۍ پښتو پرځای په پارسي يا اردو ژبه کړې، په دغه مسځونه کې ډېره ونډه اخيستې ده (د پوره څرګنداوي لپاره: پښتو-انګرېزي- پښتو سيندګی، سربلونه-وستربلونه، ګړنې او څرګندنې؛ ليکلارښود مخونه).
. نو که ګران شکلی د دغه راز بېلاريو پر وړاندې خپله ژبنۍ پوهه پر کار واچوي، بې اړنګه به يوه شکلې هڅه وي.
د هغه بېلګو په سر سر کې چې ما او استاد صميم او يونيم بل پښتو مين، ان له استاد حبيبي تر مولانا خادم پورې پخوانو استادانو په ګډون څه کم و زيات څلوېښت کاله يې پر وړاندې مبارزه کړې، ترپارسي (تا) تر اغېزلاندې د(څو، ترڅو) او د اردو- انګرېزي اړيکوييکو(اداتو) او اړيکنومځرو (ارتباطي ضميرونو)(څوک چې، چاچې، کوم چې...) بېځايه پېښې دي.
**۱)** ((تا)) په ليکنۍ- ادبي پارسی کې اووه- اته پښوييز و دندو لرونکې وييکی (ادات) دی او ييکې يوه کړولي(تر څو چې په هېوادکې ارامي راځي، پر موږ به تېره وي، ترڅو کوشنی و نه ژاړي، مور تی يا شودې نه ورکوي...)، خو له علتيه، بيانيه او نورو دندو سره يې هم((څو، ترڅو)) راژباړي، لکه: زه راغلم ترڅو تا وګورم، پام کوه، ترڅو دې ګاډی و نه وهي...!
**۲) پارسي سربل يا پيشينه ((از)) دوه درې دندې پرځای کوي: اضافت((د))، لکه (اين قلم از من است، وطن من از من است...)، سرچينه يا منشأ(departure) ((له)) لکه(قلم را از زلمی ګرفتم، زلمی از کابل آمد...)،((د)) يې پر ځای کارول داسې پايله رامنځته کولای شسي :(تل به دې ساتم ((د)) پردو وطنه)؛ پرتليزيا نسبتي((تر))، لکه( تو از من پيش**

استی، تو ازمن بزرگتر استی...) ، خو زموږ پېښاووان(مقلدان) هغه په دغو درو واړو برخو کې يوازې منشايي(د-څخه) يا(له-څخه) کاروي چې له بده مرغه ، د بي بي سي پښتو خپرونې لومړنيو ويناندانو ((مصداق، بهزادي، کريمي، ارغنداوي...)) يې په دودوولو کې بېخرته برخه اخيستې ده. نن سبا يې بيا تر((تا)) هم خورا ډېر زور اخيستی او په ځانګړې توګه يې رسنيزه پښتو ډېره زياته کړکيچوکړې ده، د پارسي دوه دندي سربل يا پيشينې((از)) تر اغېزلاندې، له دې لاندې بېلګو سره:

(۱) له(د) کابل څخه يې کتنه وکړه، له کابل څخه يې د کتنې په وخت کې...

کره: د کابل کتنه يې وکړه يا کابل يې وکوت، د کابل د کتنې پر مهال...

(۲) له کرزي څخه يې ملاتړ، ننګه، دفاع، هرکلی، ستاينه، يادونه... وکړه

کره: د کرزي ملاتړ، ننګه، دفاع، ساتنه، هرکلی، ستاينه، يادونه، نمانځنه...وکړه او داسې نور.

په دغه لړ کې (ملاتړ، ننګه) د( له- سره) په ملتيا هم راتلای شي، لکه:

له کرزي سره يې ننګه يا ملاتړ وکړ او يا څرګند کړ... .

د نورو بې شمېرو ناکره پېښو په سر سر کې د ساده ((چې)) پرځای اردو- انګرېزي غبرګو اړيکوييکو (ارتباطي اداتو): چېرې چې، څوک چې، چاچې(د چاچې) کوم چې(د کوم چې، د کومې چې، د کوم چې...) کارونې کښېنی پښتو خورا زياته کړکيچو کړې او بره خوا يې هم زياتره هماغه پارسي ځپلي(ليکوال او رسنوال) پېښې کوي، لکه:

کرزی څوک چې د افغانستان صدر دی، جرمني ته لاړو چېرې چې کانفرنس جوړېدلی شي. په دې کانفرنس کې د پاکستان کردار اهم ګڼلی شي د کوم له مخه چې په دواړو ملکوکې امن قائمېدلی شي... .

(پښويه۲۰۰۵، مخ، ليکلارښود ۲۰۰۷،مخ)